
# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٣٢ ګڼه / یکشنبه ۱۲ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰۲ ثور ۱٤۰۳ هـ.ش / ۲۱ اپریل ۲۰۲٤ میلادي


## کابل کې افغان-قزاق نندارتون پیلېږي



افغانستان د نړیوالو نندارتونونو د تدویر مرکز خبر ورکړی چې په پلازمېنه کابل کې به د غویي په پنځمه د افغانستان او قزاقستان د لسګونو شرکتونو ګډ نندارتون پرانیستل شي.

یاد مرکز ویلي، چې د دې نندارتون لپاره چمتووالی روان دی، چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت رهبري یې هم له چمتووالي څخه څارنه کوي. د صنعت او سوداګرۍ وزیر د دې نندارتون د ترسره کېدو په برخه کې د هر راز مرستې ډاډ ورکړی دی. دغه نندارتون، چې د غویي په پنځمه نېټه پیلېږي د دوارو هېوادونو د شاوخوا ۸۰ شرکتونو تولیدات به پکې نندارې ته وړاندې شي. دا په داسې حال کې ده، چې څه موده وړاندې د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ هم ورته نندارتون د ترکمنستان په کوربتوب جوړ شوی و چې پکې ګڼ افغاني توکي نندارې او پلور ته وړاندې شوي وو.

# ترکیې ته تر زر متریک ټنو زیاتې معدني ډبرې صادرې شوې



مسوولین وايي چې ورمه ورځ د روزنک وسپنې پټلۍ له لارې ترکیې ته یو زر او سل متریک ټنه ګرانبیه ډبرې صادرې شوي دي.

ویل کیږي چې په دغو ګرانبیه ډبرو کې تالک ډبره شامله وه چې د ترکیې مرسینګ ښار ته رسېدلې ده. په دې تړاو په روزنک وسپنې پټلۍ سټیشن کې ځانګړي پرانیستونکي مراسم جوړ شوي وو، چې پکې د هرات د وسپنې پټلۍ د رییس ترڅنګ د اطلاعاتو او کلتور رییس، د سوداګرۍ او پانګونې خونې رییس او ګڼو ځايي افغان او بهرنیو پانګه والو برخه اخیستې وه. د هرات د وسپنې پټلۍ رییس مفتي محمد نسیم محمدي په دې اړه ویلي چې په پیل کې به د روزنک وسپنې پټلۍ له لارې د سوداګریزو توکو د لېږد را لېږد کچه... ۳مخ

## چین از کمک به‌مهاجران برگشت‌کننده از پاکستان خبر داد

وزارت خارجه حکومت افغان با نشر پیامی گفته که حکومت چین تعهد کرده مبلغ ۱۰۰ میلیون ین برای مهاجران اخراج شده از پاکستان در بخش‌های مختلف کمک خواهد کرد. حافظ ضیا احمد تکل، معاون سخنگوی وزارت خارجه حکومت سرپرست در گفتگو با رسانه باختر گفته که چین برای کمک به مهاجران برگشت کننده ... ص۳



## سرمقاله

# تنش‌های ناشی از غزه را دست‌کم نگیرید!

بعد از حمله جنون آمیز رژیم صهیونیستی به کنسلگری ایران در دمشق و حمله تلافی جویانه ایران به اسرائیل سفاک، شماری از کشورهای قدرتمند جهان مانند امریکا، انگلیس، فرانسه و... به فرمایش رژیم غاصب اسرائیل جلسه شورای امنیت را عجالتاً تدویر و علاوه بر محکوم کردن ایران، به نقش اساسی خود در دفع حملات ایران نیز اشاره مستقیم کردند، اما آنتونیوگوترش سرمنشی عمومی سازمان ملل متحد که در این جلسه حضور داشت، ضمن درخواست خویشتن‌داری از طرفین و کاهش تنش در منطقه غرب آسیا، تأکید کرد مردم منطقه با یک خطر واقعی روبرو استند که نشان دهنده یک درگیری ویران‌گر در مقیاس وسیع است. وی خاطرنشان کرد؛ زمان کاهش تنش، توقف تشدید و اعمال خویشتن‌داری حد اکثری فرا رسیده است، زیرا صلح و امنیت منطقه‌یی و جهانی هر ساعت تضعیف می‌شود و جهان نمی‌تواند جنگ‌های بیشتری را تحمل کند.

کشورهای حامی رژیم غاصب نیز در ظاهر به کاهش تنش‌ها در خاورمیانه تأکید داشتند و اسرائیل را از حمله بل‌المثل به ایران ممانعت نموده و خواستار خویشتن‌داری شدند، اما رژیم صهیونیستی بدون اندک تمکین نمودند به اعضای دایمی شورای امنیت، اظهارات سرمنشی عمومی سازمان ملل و کشورهای مطرح جهان، بامداد روز جمعه ۳۱ حمل دست به حمله تلافی جویانه به جمهوری اسلامی ایران زد. هر چند به باور مسئولان در ایران این حمله تلفات انسانی و مالی نداشته است، اما مردم منطقه و جهان را بر آینده نا امید ساخته و سرمنشی سازمان پیمان اتلانتیک شمالی(ناتو) نیز در مورد حمله اسرائیل به ایران، خطرات و بروز جنگ تازه در خاور میانه هشدار داد، اعضای گروه ۷ نیز از طرف‌های درگیر خواستند تا از تشدید بیشتر تنش‌ها اجتناب ورزند و در ضمن وزیران خارجه کشورهای عضو گروه هفت، سران کشورهای جهان، هم‌چنین نهادهای بین‌المللی را فرا خواندند که در راه تنش‌زدایی در خاورمیانه تلاش نمایند.

این در حالیست که تنش‌ها و مناقشه‌های بین‌المللی ناشی از جنگ غزه اکنون با گذشت ماه‌ها و به ویژه پس از رویارویی مستقیم ایران و اسرائیل وارد مرحله تازه‌یی شده است که باید جهان به این مسأله برخورد جدی کند.

زیرا یاری گیری و صفارایی کشورهای جهان به ویژه منطقه، مسبب تنش‌های بیشتر و جنگ تمام‌عیار در منطقه خواهد شد که در آن صورت این رویارویی از کنترول خارج و جهان شاهد یک بحران مدهش و خطرناکی خواهد بود.

روی این اساس، سازمان ملل متحد و کشورهای قدرتمند جهان باید این رویارویی و تنش‌های برخاسته از جنگ غزه را دست‌کم نگیرند و به حل این مسأله به ویژه بحران غزه نقطه پایان گذارند، بیش از اینکه بحران کنونی خاورمیانه به یک جنگ ایدیولوژی تبدیل گردد.

### د ښار جوړولو وزارت:

## هېڅوک د خپلسرو ودانیو جوړولو حق نه لري

د کور او ښار جوړونو وزارت مسوولین وايي چې وزارت هوډ لري، په ټول هېواد کې د خپلسرو ودانیو د جوړولو مخنیوي وکړي.

لوګر کې د دغه وزارت د ریاست رئیس مولوي مطیع الله زاهد ویلي، چې تخنیکي ټیم یې د دې ولایت د ښاروالۍ له استازو سره په ګډه پل علم ښار کې په خپلسري ډول د یوه سوادګریز مارکېټ د جوړېدو مخنیوی کړی. ښاغلی زاهد زیاتوي، د مارکېټ د جوړېدو پر مخنیوي سربېره یې ترسره شوي کارونه هم ویجاړ شوي دي. ۳مخ



## اسلامي ملي اردو ځواکونو ننګرهار کې هېوادوال له سېلابونو ژغورلي

د اسلامي ملي اردو ځواکونو له لوري د ننګرهار ولایت په دور بابا او غني خېلو ولسوالیو کې یو شمېر هېوادوال ژغورل شوي او خوندي ځایونو ته یې لېږدولي دي.

ویل کیږي چې دغه هېوادوال د دوربابا او غني خېلو ولسوالیو کې د سختو اورښتونو او سېلابونو د راوتلو له امله په سېلاب کې بند پاتې وو، چې د ۲۰۱ خالد بن ولید رضی الله عنه قول اردو د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د دریېمې پلې لوا د پرسونل په هڅو خوندي ځایونو ته انتقال شوي دي.

د ملي دفاع وزارت مسوولین وايي چې دوی د شته امکاناتو په مټ شپه او ورځ هڅه کوي، څو هېوادوال له زیانونو وژغوري.



### سره میاشت:

## یوه میاشت کې مو له سل زرو ډېرو اړمنو سره مرسته کړې

د افغاني سرې میاشتې مسوولین وايي چې په تېرو ۳۰ ورځو کې یې په ۲۴ ولایتونو کې ۱۲۴۴۷۶ کسانو ته مرستې وېشلي دي.

د یاد شمېر کسانو له لړۍ څخه ۱۰۳۳۷۱ کسانو سره د خوراکي توکو، ۱۲۳۰۴ کسانو سره د غیر خوراکي توکو، ۸۸۰۱ کسانو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته شوې ده.

د خوراکي توکو د مرستې کچه ټولټال ۷۰۷.۱۵۲ ټنه کېږي، چې ۳۷۷.۷۵ ټنه اوړه، ۵۵.۱۵ ټنه غوړي، ۲۹.۸ ټنه بوره، ۱۲۲.۷۲۵ ټنه لوبیا، ۴۳.۴۵ ټنه وریژې، ۰.۵۷۵ ټنه مکروني، ۹.۷۵ روب، ۱.۵۵ مالګه، ۱.۵۵ چای او ۶۴.۸۵۲ ټنه خرما پکې شامله وه. ۳مخ

## سال گذشته بیش از ۸۷ هزار تذکره در بادغیس توزیع شده است



**شریعت:** ریاست احصائیه و معلومات ولایت بادغیس اعلام کرده است که در سال ۱۴۰۲ خورشیدی در مجموع برای ۸۷هزار و ۶۵۳ تن تذکره توزیع نموده که شامل ۳۳ هزار و ۵۱۹ تذکره الکترونیکی و ۵۴ هزار و ۱۳۴ تذکره کاغذی می‌گردد.

اداره ملی احصایه و... ص۳

## نشه یي توکو سره د مبارزې پولیسو څو ولایتونو کې سلګونه جریبه ځمکه له کښته پاکه کړه

کورنیو چارو وزارت خبر ورکوي، چې د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې پولیسو يې د بدخشان په داریم، جرم او کشم ولسوالیو کې ۲۰۰ جریبه، لغمان کې ۲۶ جریبه، نیمروز کې یو جریب او په بلخ، تخار او هرات ولایتونو کې هم د کوکنارو کښتونه له منځه وړي دي. دې وزارت زیاته کړې، چې امنیتي ځواکونو په یو شمیر ولایتونو کې ځینې کسان د نشه يي توکو د پېر او پلور په تړاو نیولي هم دي.

یاد وزارت خبر ورکوي، چې امنیتي ځواکونو اته کسان په کاپیسا، ۳مخ

## جان باختن هفت عضو یک خانواده در هلمند



مسئولان محلی ولایت هلمند می‌گویند، در نتیجه فروریختن سقف یک خانه در این ولایت، هفت عضو یک خانواده جان‌شان را از دست داده‌اند.

حافظ عبدالباری راشد، رئیس اطلاعات و فرهنگ ولایت هلمند گفته که این رویداد دو روز قبل اتفاق ... ص۳

### د میرزکې خزانه



۲

### فلسطین او اتیا کاله مبارزه



۲

### بیشتر از چهارصد حریق توسط اطفائیه کابل مهار شده است



۲

# فلسطین او اتیا کاله مبارزه

**لومړۍ برخه /ژباړن: سلطان جان خاکسار**

فلسطین د پیغمبرانو زېږنځای، داسې پیغمبران، چې د خپلو قومونو او روزنې لپاره یې کلونه کلونه زحمت وګاله او دوی یې د الله ج وحدانیت ته رابلل. فلسطین کې ډېر پیغمبران زېږېدلي، لکه: اسماعیل، اسحق، زکریا، یحی، یعقوب، یوسف، داود، سلیمان او عیسی علیهم الصلوات و السلام. دغه شان په دغه مقدسه خاوره کې ګڼو صحابه کرامو استوګنه کړې ده. عباده بن صامت، ابوریحانه شمعون انصاري، اوس خرجي، ذوالاصابع تمیمی او نورو صحابه کرمو رضی الله عنهم. دغه راز یاده خاوره د ګڼو عالمانو د خاپوړو خاوره هم ده. د بېلګې په توګه امام شافعي صاحب، حافظ بن حجر عسقلاني صاحب او نورو په دې خاوره کې خاپوړې کړې دي.

فلسطین د قدامت له اړخه د نړۍ په ډېرو لرغونو هېوادونو کې په لومړي ردیف کې د درېدو حق لري. دا هېواد په منځني ختیځ کې پروت د اسیا تر ټولو زړه جغرافیه ده. همداشان د مذاهبو دا ټاټوبی د دینونو؛ یهودیت، عیسویت او اسلام زانګو بلل کېږي. د لرغونتیا په تړاو یې لرغونپوهان وایي چې له مصر پرته له ټولو اسلامي او خلیجي هېوادونو سره سیالي کولی شي.

فلسطین د خپل جیوپولوټیک موقیعت له اړخه هم د ځانګړې پاملرنې وړ دی. دا هېواد د اسیا او افریقا لویو وچو تر منځ د یوه پل حیثیت هم لري.

پر دې سربېره دا هېواد په داسې یو ارزښت لرونکي موقیعت کې پروت دی، چې د مدیترانې د سره سمندرګي سره د عربي ټاپو وزمې نښلون تر زیاتې اندازې اسانوي. حتی ویلی شو، چې دغه هېواد د اسیا، افریقا او اروپا ترمنځ مثلث جوړوي. فلسطین د سویس کانال څخه درې سوه کیلومتره واټن لري او د عقبې بندر په واسطه له سره سمندرګي پورې نښلي، نو ځکه تل د استعمارچیانو د پام وړ ګرځېدلی دی. فلسطین پرېمانه کانونه او د کښت وړ ځمکه لري، چې بدبختانه اغېزمنه استفاده ترې نه ده شوې.

قدس(بیت المقدس)

بیت القمدس د مسلمانانو لومړۍ قبله او هغه ښار چې اسمانونو ته د پورته کېدو پر مهال د رسول اکرم صل الله علیه وسلم کوربتوب یې کړی دی. دا ځای د پیغمبر صل الله علیه وسلم د اسرا او معراج ته د تګ د ځمکني سفر وروستۍ تمځای و.

یو شاعر یې په ستاینه کې وایي:

ای قدسه!! ای قدسه!!!
ای د اسمان ښاره
ای د سرسپارلیو ننګیالیو ټاټوبیه
ستا بېلتون کې مې زړه وریتېږي نور
له زړه مې وینې خوټېږي نور
ای خدایه!!! ای پالونکیه!!! زه به ژوندی یم؟ زه به ژوندی یم؟
چې قدس بیاځلې فتح کېږي!؟ که وم تر تورو خاورو لاندې
زېری یې ما ته، رارسېږي؟
**ای خدایه بیا به پیدا شي یو څوک**
**چې دا پاشلی امت راټول کړي**
**د صلیبیانو تغر ور ټول کړي**
**او زه رانجه کړم، د قدس خاوره**
دا به وي شوني؟
چې قدس ازاد شي؟
د هر یوه مسلمان/ زړونه پرې ښاد شي
ای د اسمان ښاره
ای د سرسپارلیو ننګیالیو ټاټوبیه
اقصی دې زړه کې پرته
لړ ډېر پرې پام کوه
زموږ لومړۍ قبلې
زموږ د زړه ائینې( د شعر ازاده ژباړه)

**الاقصی مسجد**

د اقصی جومات د مسلمانانو لومړۍ قبله، د موحدانو دویم جومات او د مسلمانانو درېیم مقدس حرم دی. مسجدالاقصی د مسلمانانو لومړۍ قبله ده. د رومي صلیبیانو په لاس د قدس د اشغال او سلطې پر مهال، رسول صل الله علیه وسلم د بعثت پر لسم کال د براق په واسطه د اسرا و معراج په شپه له مسجد الحرامه مسجد الاقصی ته ولاړ او له هغه ځایه معراج(سدرة المنتهی) ته یې تشریف یووړ او له پیغمبرانو سره یې لیده کاته وکړل، د لمونځونو امامت یې وکړ او د اسمانونو ننداره یې وکړه. د الاسرا سورت په لومړي ایت شریف کې راځي: هغه رب پاک او منزه دی چې خپل پیغمبر یې له مسجدالحرامه مسجدالاقصی ته رهي کړ، تر څو د الله جل جلاله د قدرتونو ننداره وکړي.

د اقصی مسجد د موحدانو دویم جومات دی. په تاریخي کتابونو کې راځي، چې د مسجدالاقصی بنسټګر حضرت داوود علیه السلام او بشپړوونکی یې حضرت سلیمان علیه السلام دی. اما قوي او صحیح روایتونه دا دي چې اقصی د آدم علیه السلام په لاس د کعبې تر ابادونې ۴۰ کاله وروسته جوړه شوه او بیا حضرت ابراهیم علیه السلام هغه ځای وموند او پر همغه بنیادونو یې د کعبې تعمیر ورغاوه. په بخاري شریف کې د ابوذر رضی الله عنه له قوله راغلي، چې له رسول الله صل الله علیه وسلم څخه مې وپوښتل چې د ځمکې پر سر تر ټولو لومړی کوم جومات آباد شوی؟ هغه مبارک راته وویل چې مسجدالحرام. بیا مې ترې وپوښتل چې دویم کوم یو دی؟ هغه (ص) وویل مسجدالاقصی. بیا مې ترې وپوښتل چې د دغو دوو جوماتونو ترمنځ به مهالي واټن څومره و؟ رسول (ص) وفرمایل، څلوېښت کاله. ابن حجر دې قضیې ته په نغوتې وایي او ابن حجر په خپل کتاب کې لیکي چې کله چې آدم علیه السلام کعبه ودانه کړه، نو بیا الله جل جلاله نوموړي ته امر وکړ چې اوس دې بیت المقدس ته ورشي او هغه دې اباده کړي او هلته دې پر عبادت بوخت شي؛ بناءً مسجدالاقصی له حضرت داوود او سلیمان علیهما السلام څخه ۱۰۰۰ کاله وړاندې اباد شوی. مسجدالاقصی د مسلمانانو درېیم مقدس حرم دی. په احادیثو کې راځي چې رسول الله صل الله علیه وسلم فرمایلي چې په مسجدالحرام کې یو لمونځ له سل زره لمونځونو، مسجدالنبوي کې یو لمونځ د زرو لمونځونو او بیت المقدس کې یو لمونځ د پینځه سوه لمونځونو هومره اجر لري.



# د میرزکي خزانه

**حیات الله حلیم**

افغانستان د منځنۍ آسیا د هېوادونو ترمنځ یو لرغونی، غرنی او د موقعیت له لحاظه تر ټولو لوړ هېواد دی چې تاریخي شالید یې زرګونو کلونوته رسېږي، دمعتبرو تاریخي روایاتو او اسنادو له مخې افغانستان د بین النهرین، کلدې، مصر، د مدیترانې د جنوبې سواحلو، فلسطین، یونان او چین د مدنیتونو ترمنځ د پنځم مدني کانون په توګه د تاریخ په پاڼو کې تسجیل، خو په اسیا کې بیا د تمدن د لومړنۍ زانګو په توګه پېژندل شوی او سجل شوی دی، پاتې د نه وي چې زموږ ګران هېواد له روم او هند نه د مدنیتونو په حساب ډېره اوږده مخینه لري.

په افغانستان کې د خاورود لټ په لټ کېدو او کېندونو په ترڅ کې داسې لرغوني آثار او سکې، له طلاوو جوړشوي امیلونه، کودړې او نور داسې انساني تصرفات ترلاسه شوي، چې د ځینو یې په لنډ حساب تر پنځو زرو کلونو پورې عمر لري.د پخوانیو یادګارونو په ډله کې یوه هم د میرزکې خزانه ده چې د ګردیز ښار په شل کیلومترۍ ختیځ پلو کې د کافرکوټ په غونډۍ کې چې د میرزکې د نیم وچ سیند سره د اویا مترو په فاصله موازي پرته ده، وموندل شوه، د دې خزانې تر څنګ په دغه سیمه کې نور داسې لرغوني آثار او د ودانیو نښې نښانې موجودې دي چې لیدونکی د لېرې ماضي په لور له ځان سره بیایي د کافرکوټ د غونډۍ په لمنه کې د شفافو او رڼو اوبویوه داسې چینه ده چې د زرګونو کلونو راهیسې یې د سیمې اوسېدونکو ته اوبه ورکړې دي، د ۷۲ کلونو د مخه خبره ده چې کله کلیوالي نجونو له دغه چینې څخه اوبه وړلې یوې نجلۍ ته ناڅاپه د چینې په ریګونو کې یوڅه وځلېدل ، نجلۍ لاس ور ووړ چې ګوري د سپینو زرو سکه په لاس ورغله ، په لېرې او نېږدیو کلیو کې آوازه تیت شوه خلک په چینه را مات شول هرچا په خپل وار سره له چینې سکې را وایستلې اوپه بازارونو کې یې وپلورلې کله چې حکومت خبر شو،نو د لوی مورخ اروابښاد احمد علي کهزاد په مشرۍ یې یو پلاوی سیمې ته واستاوه ، پلاوي کېندنې وکړې او د لس زره شاوخوا مسي او د سپینو زرو سکې یې کابل موزیم ته راوړلې ، دا چینه نه یوازې د سکو خزانه ، بلکې د مختلفو واکمنو دسیکو کلېکسیون هم و، ځکه د بېلا بېلو وختونو او پاچا هانو سکې دلته وموندل شوې، څېړونکو عقیده درلوده چې د دې سکو عمر ۲۵۰۰ کلونو ته رسېږي او وروستۍ سکې یې بیا د درېیمې میلادي پېړۍ سره اړه درلوده چې په دې ترتیب د افغانستان د سیکو ۷۰۰کلن تاریخ پکې را غوند شوی و، داچې د دومره اوږدو زمانو سکې د څه لپاره په دغه ځای کې را غونډې شوې وې؟ څېړونکي عقیده لري چې دا یوه سپېڅلې چینه وه چې له لروغونو زمانو خلکو د معنوي تکیه ګاه په توګه خپل نذرونه ورته را وړل او د خپلو هیلو د پوره کېدو غوښتنه به یې کوله ، بیا نو چا جرآت نه درلود چې له دې سپېڅلې چینې دا سکې په غلا او یا ښکاره ډول یوسي، د زمانې په تېرېدو سره دا سکې را ټولېدلې، ډېرېدلې او د ۷۰۰کلونو په اوږدوکې دا خزانه ترې جوړه شوه، د دې چینې لومړنۍ ۲۵۰۰کلنې سکې ډېرې ابتدایي سکې وې چې په ډېر ساده ډول له سپینو زرو جوړې شوې وې په ځینو یې د انسانانو، وسلو، ونو، الوتونکو، لمر اوستوریو انځورونه کښل شوي وو او دایې ښودله چې له یونیانانو د مخه آریایانو هم سکې درلودې دا سکې له ګندهارا نه د سند، سیند ترڅنډو پورې چلېدلې ، د میرزکې د کلیکسیون دویمه برخه سکې تر میلاد وړاندې ، دوه دیرش کال نه ، تر میلادي درېیمې پورې د بېلا بیلو واکمنو چې د هندوکش په سهیل کې یې حکومتونه کړي و، اړوندې وې، عجیب داچې په دې سکو کې د هغه یونانو باختري پاچاهانو چې د هندوکش په شمال کې یې واکمني درلوده ، سکې ونه لیدل شوې ، سره له دې چې د هندوکش د دې لوري (سهیل پلو) ټولو واکمنوسکې پکې موجودې دي ، خصوصاً د کابل د وروستني یوناني پاچا هرمایوس اومناندر، ګڼې سکې پکې خوندي وې ، همدا شان د کوشاني دورې د کد فیزس او کنشیکا د کورنۍ سکې هم پکې وموندل شوې او وروستنۍ سکې چې د میرزکې د سکو کلکسیون پرې بشپړ شو هغه بیا د لویو کوشانیانو د وروستي پاچا (واسود یوادی ) سکې وې ، داسې ښکاري چې د ساسانیانو له یرغلونو سره دا ځای وران شوی وي او د کافرکوټ غونډۍ نوم یې خپل کړی وي او تر هغې وروسته دا ځای له اهمیت نه لوېدلی وي او ترڅنګ یې دې چینې هم خپل مذهبي تقدس له لاسه ورکړی وي .

لنډه داچې ۷۲ کاله د مخه له میرزکې نه د اټکل له مخې پنځوس زره د سپینو زرو او مسو، سکې ترلاسه شوې چې له دې شمېرې یې څلوېښت زره هماغه وخت د خلکو لاس ته ولوېدې اوپه تورو بازارونو کې په ټیټه بیه وپلورل شوې او بیا د تاریخي اثارو د قاچاق وړونکیو لاس ته ولوېدې، په ملکونوکې خورې ورې او تیت پرک شوې، د میرزکې خزانې هغه شمېر سکې چې د لرغونپوهنې هیئت ته په لاس ورغلې اوس هم د کابل په موزیم کې خوندي دي.

اوس نو لازمه ده چې د افغانستان اسلامي امارت د اطلاعاتو او کلتور وزارت د لرغون پېژندنې مسلکي ډلې د کافرکوټ د سپېڅلې چینې په شاوخوا کې اساسي او علمي پلټنې وکړي تر لاسه شوي منقول آثار یې کابل موزیم ته را ولېږدوي او غیر منقول آثار او دانې یې همالته خوندي وساتي او دسیمې خلک وهڅوي چې د ګرځندویانو لپاره هوټلونه جوړ کړي او دې لارې د ملي بودیجې د تقویې په خاطر عواید را ټول شي.

# بیشتر از چهارصد حریق توسط اطفائیه کابل مهار شده است

**داوود ناظری**

اطفائیه با داشتن مسئولیت وقایوی و مجادله ای با حوادث طبیعی و غیر طبیعی مانند آتش سوزی، حوادث انفجاری، افتادن در چاه، سیلاب و ... بزرگترین نقش‌را در نجات جان و مال مردم از خطر دارد. اکنون مسئولان مدیریت اطفائیه کابل به روزنامه شریعت می‌گویند آنان با نیروی مسلکی، تجهیزات مدرن و انواع وسایط برای مبارزه و مجادله با حریق و حوادث دیگر آماده هستند.


کابلیار مدیر اطفائیه کابل به روزنامه شریعت میگوید در یکسال گذشته ۴۳۵ حادثه حریق توسط آنان مهار شده است. به گفته ایشان فعلا ۲۰۶ نیروی مسلکی، ۳۷ وسایط مختلف النوع، دو نوع بالابر ۵۴ و ۴۴ متری در ۸ استیشن آتش نشانی درنقاط مختلف پایتخت در اختیار این اداره قرار دارد که ۲۴ ساعته در حالت آماده باش هستند. وی تصریح کرد که تلاش ها جریان دارد تا چهار استیشن دیگر در دروازه های کابل فعال گردد. وی از شهروندان می خواهند که در هنگام به صدا درآمدن صدای موتر آتش‌نشانی، مسیر را برای آنان خالی سازند.

به گفته مدیر اطفائیه کابل، تمام نقشه ساختمان ها قبل از شروع بکار آن، از نظر متخصصان بخش اطفائیه باید قابل تایید باشد تا موارد ایمنی، راه فرار و مسیرهای موترهای عاجل در نظر گرفته شده باشد.

نیروهای مجادله اطفائیه کابل به روزنامه شریعت می گویند تمامی برنامه های روزانه شان منظم است و برای کسب مهارت های بیشتر هر روز آموزش می بینند. با وجودی که کارشان پرخطر و همراه با تلفات است ، اما برای نجات دادن جان و مال مردم از هیچ تلاشی‌دریغ نمی کنند و به محض وقوع حادثه فورا به محل حاضر می شوند.

قاری عبیدالله از باشندگان کابل به روزنامه شریعت می‌گوید در بسیاری موارد نیروهای اطفائیه به موقع خود را به محل وقوع حادثه رسانده و از تلفات و خسارات بیشتر جلوگیری کرده اند.

محمدعلی توحیدی از کارشناسان امور به روزنامه شریعت گفت: داشتن اطفائیه قوی و مجهز از نیازمندی های هر جامعه است. وی تاکید می‌کند که برای سرعت بیشتر کار اطفائیه باید سرک ها و کوچه ها معیاری و تمامی شهروندان مکلف به همکاری با نیروهای فداکار اطفائیه هستند.





# د استعدادونو ارزښت

**مولوي نورالحق مظهري**

که موږ استعدادونه پر ځان راټول نکړو او په خپله ګټه یې و نه کاروو ارومرو به مو له لاسه ووځي او د پرمختګ لنډمهالی مزل به مو په اوږدمهالي بدل سي چې په نتیجه کې به د میاشتې مزل په کال او د کال مزل په کلونو کې نسو وهلی او د دې احتمال هم سته چې زموږ لپاره جوړ استعدادونه د دښمنانو په لاس ورسي او زموږ په خلاف یې وکاروي. په دې باندې باید موږ سر خلاص کړو چې شته استعدادونه هغه فرصتونه دي چې له لاسه ورکول یې لویه ضایعه او دښمن ته فرصت ورکول دي ځکه دښمن تل په کمین کې ناست وي؛ زموږ هره نیمګړتیا د دښمن لپاره فرصت دی او زموږ له لاسه د فرصتونو وتل دښمن ته لویه لاس ته راوړنه ده.

# فـــکر وکـــړئ!

**منیرفاروقي**

د روژې مبارکه میاشـت لـه رحمتونو، مغفرتونو او د جهنم لـه اور څخه د خلاصون میاشت وه/ده، نو له ختمېدو سره یې یو خای خینو خلکو لمونځونو، عبادتونو او نورو نېکو کارونو ته شا کړه او د اختر په راتګ سره داسې بولي، چې نعوذبالله یوازې پـه رمضان کې لمونځونـه او عبادتونـه فـرض وو او د رمضان په ختمېدو سره چې څه یې زړه غواړي ویې کړي. نه، داسې نه ده. هـر فـرض لمونـځ او نـور فرضـي عملونه پـه خپل تاکلي وخت کې، په هـر عاقل، بالـغ او ازاد مسـلمان فـرض دی، یـوازې پـه روژه کـې نه. اصلاً د رمضان سره الوداع (مخه ښه) نه کېږي، خکه رمضان خو هر کال راځي؛ خـو ځینې د اختر په راتلو د خینو عملونو سره الوداع کوي، چې هغه دا دي: د لمانځه سره الوداع کول.

د مسجد سره الوداع کول. د الله تعالی احکامو سره الوداع کول. د نبي کریم صلی الله علیه وسـلم سنتو سره الوداع کول. د قرانکریم تلاوت سره الوداع کول. د تهجـدو لمانځه سـره الـوداع کول او داسې نور.... لنده او اوږده یې دا، موږ څخه هغه ورځ هېـره ده، چې له تولې نړۍ سـره الوداع کـوو، نو په دې اړه لانـدې خبرو باندې لږ فکر وکړئ! دوزخیانـو تـه بـه وویـل شـي: (ما سـلککم فی سـقر) ژباړه: تاسو ولې دوزخ ته وغورځول شوئ؟ دوزخیـان بـه ورتـه ووایـي: (لم نک من المصلین) ژباړه: موږ لمونځ نـه کاوه، لمونـځ کوونکو څخـه نه وو. بیا به د یو الحمدلله، سـبحان الله او الله اکبر ویلو ارمان کوو.

ملګرو! د رمضان له ختمېدو سـره باید د اسلام له احکامو سره الوداع ونه کړو. د رمضان میاشت خو د مسلمان لپاره د تربیت، د نفسـي خواهشاتو کنترولولو او تقوا میاشت ده. د انسـان څخه ضرور په یوولس میاشتو کې د الله جـل جلاله نافرماني شـوې وي، نـو په دې میاشت کـې باید خان اصلاح کړي او د الله جل جلاله اوامرو ته لبیـک ووایـي او د همدې میاشـتې روژې نیولو او تقوا اختیارولو وروسـته هم خان همداسـې لـه ګناهونو پرهیز او تقـوا اختیار کړي لکـه څنګه یې چې د روژې په مبارکه میاشت کې خان ساتلی وي. موږ او تاسو زیاتره وخت ګورو، چې یو انسـان د روژې مبارکه میاشت کې سره د دې چې غټ شـیطانان ترل شوي وي، بیا هم ګناه کـوي، پوهېږئ! چې دا کس ولې ګناه کوي؟ دا خکـه، چې نومړي یوولس میاشـتې د شـیطان پیروي کړې وي او د الله جل جلاله اوامرو ته یې شا کړې وي، نو په دولسـمه میاشت خپله هم شـیطان شوی وي او د شـیطان تول اوامر پرته له وینا ترسـره کـوي، نو که موږ په رمضان میاشت کـې خانونه په نېکو کارونو اموخته او له بدو کارو منعه کړو، نو راتلونکې یوولس میاشـتې به ان شـاءالله د شیطان له جالونو په امن یوو. ملګـرو! کـه چا پـه دنیا کـې د روژې غونـډې ژوند غوره وکړ؛ نو اخرت به یې د اختر غونډې ښـکلی او له خوشحالیو ډک وي.

د رمضـان لـه ختمېـدو سـره زمـوږ جوماتونه د لمونـځ ګذارانو څخه بېخي خالي شـوي دي، والله چې ذره ایمان په چـا کې وي، ددې حال پـه لیدو یې زړه درد کـوي. ومن الله توفیق

## هڅوک د خپلسرو ودانیو جوړولو...

د یادونـې وړ ده، چـې ښـار جوړونـې وزارت پـه ښـاري معیارونـو برابر او د نقشـې مطابق د ښـارونو جوړولو په موخه پلازمېنـه او تولو ولایتونو کې د خپلسـرو او غیـري قانونـي تاسیسـاتو جوړېـدو مخنیوی کوي.

# افغان اعلانات

**اعلان داوطلبی**

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی تهیه و تدارک ۲۱۴ قلم پرزه جات مختلف النوع وسایط ثقیله انجنیری ضرورت قول اردو (۲۱۵) عزم از بابت سال مالی ۱۴۰۳.
نوع قرارداد: بالمقطـع روش(داوطلبی باز داخلی). شـماره داوطلـبی: وزارت دفاع ملی -۱۴۰۳- اجناس- ۲۰۲۹- ۲۲۴۰۲ اشـتراک نموده و آفر های سربسته خویش را مطابق شـرایط شـرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشـر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.
آدرس ومـدت اخـذ شرطنامه: ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه از تاریخ نشـر اعلان الـی ۲۱ یوم تقویمی به روز های رسـمی از شروع رسمیات الی ختم رسمیات بشـکل کاپی/سافت (CD) اخذ و همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را از ویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلـود نماینـد .شـماره تماس(۰۲۰۲۶۱۲۰۸۶).
تضمین آفـر: مبلـغ (۵۰۰،۰۰۰) افغانی بشکل گرانتی بانک اخذ میگردد.
نوت : تضمین آفر در نسـخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست. صرف تضمین بانکی قابل تطبیق میباشد. ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد، یعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبارمی باشد.
ضرب العجل تسلیمی آفرها و آفرگشائی:از تاریخ نشـر اعلان الی ۲۱ یوم بعد، قبل از سـاعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر آفر های دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.
محل آفرگشائی:ریاسـت تـدارکات واقع خواجـه بغـرا مقیـم گارد سـابقه بلاک آفرگشائی.
نوت:ازداوطلبان محترم خواهشـمندیم که بعد از اخذ شـرطنامه تمامـاً موادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسـلیمی آفر اسناد تقاضا شـده مندرج شـرطنامه را تسـلیم نمایند.

***

**اعلان داوطلبی**

اداره نوی کابل بانک پروژه شماره: NKB/NCB/24/ 11-IT پـروژه تهیه و تدارک یکپایه فایروال امنیتی (Firewall) Sophos XGS-۴۵۰ بـا Xtream لایسنس برای سه سال خویش را به اعلان داوطلبی باز داخلی می سپارد .
بنـاً این بانک از داوطلبان واجد شـرایط دعـوت مینمایـد کـه در پروسـه داوطلبی فوق اشـتراک نموده و کاپی شرطنامه را از مدیریت عمومی خدمات وتدارکات بانک بدسـت آورند، همچنـان آفرهای خویش را مطابق شرایط شـرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات افغانستان طورسربسته الی سـاعت ۱۰:۰۰ قبـل از ظهر مورخ ۱۴۰۳/۰۲/۲۶به مدیریت عمومی خدمات و تدارکات دفترمرکزی نوی کابل بانک واقع شهر نو طره باز خان وات کابل ارایه نمایند ، آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد.
۱. جلسـه قبـل از آفـر گشـائی بتاریخ (۱۴۰۳/۰۲/۱۳) برگزار میگردد .
۲. جلسه آفرگشائی روز چهارشنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۴۰۳/۰۲/۲۶در مدیریـت عمومـی خدمـات برگـزار میگردد .
آدرس الکترونیکی :
enayat.ib@newkabulbank.af و
(kazim.ahmadi@newkabulbank.af))
۴۹۷

***

**اطلاعیه به کرایه دهی جایداد**

وزارت مخابرات و تکنالـوژی معلوماتی ملکیت خویش راکـه در مربوطات ناحیه نهم شـهر کابل واقع یکه تـوت موقعیت دارد و شامل ملکیت های مازاد این وزارت میگردد بـه قرارداد می‌سـپارند، وزارت مخابرات و تکنالـوژی معلوماتی دو قطعه زمین چهار دیواری شده ملکیت خویش را مساحت حدوداً ۱٤ بسوه را احتوا می‌نمایند در مربوطات ناحیه نهم شاروالی کابل واقع یکه تـوت موقعیت دارد از طریق اعلان دواطلبی به قـرارداد می‌سـپارند از تمام داوطلبان اشخاص و شرکت‌ها واجد شرایط دعوت بعمل می‌آید تا در پروسه داوطلبی به کرایه گرفتن جایداد مذکور اشتراک نمایند.
بنـاء متقاضیان محترم درخواسـتی هایش خویش را مطابق شرطنامه، طبق قانون بعد از نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی ارایه نمایند.
شـرطنامه از آدرس ذیـل قابـل دریافت می‌باشد:
پل باغ عمومی، تعمیـر هژده منزله، وارت مخابرات و تکنالـوژی معلوماتی، منزل چهاردهم مدیریت عمومی املاک.
زمان جلسه داوطلبی:
یک روز بعد از ختم تاریخ اعلان داوطلبی در صورت رخصتـی و یا جمعه اولین روز رسمی بعد از آن.
مکان جلسـه داوطلبی: وزارت مخابرات و تکنالـوژی معلوماتی- واقـع پـل باغ عمومی. ۳۹۶

## معاون سازمان همکاری اسلامی...

که هیات سازمان همکاری اسلامی از مبارزه با منکرات در افغانستان، ستایش کرده است. ایـن هیـات تبلیغـات رسـانه‌ای مبنی‌بـر نقـض حقـوق زنـان در افغانسـتان را نادرسـت خوانـده اسـت. هیات یادشـده همچنان گفته که به تعامل مثبت با امارت اسـلامی باورمند اسـت و بـه حمایت از افغانسـتان ادامـه می‌دهد. در همین حال، شـیخ محمد خالد حنفی، سرپرسـت وزارت امـر باالمعـروف و نهـی عن‌المنکر گفته که امارت اسـلامی در نزدیـک بـه سـه سـال گذشـته حق میـراث هـزاران زن را بـه دسـت آورده و برای زنان مسـتحق، تسـلیم کرده اسـت. آقـای حنفـی، تاکیـد کـرده کـه پس از حاکمیت امـارت اسـلامی، رسـم بد دادن در کشـور، از بیـن رفتـه اسـت. او همچنـان افزوده که امارت اسـلامی به تامین حقوق زنان در کشـور متعهد است. سـازمان همکاری اسلامی از سازمان‌های بزرگ و معتبر در جهان اسـلامی اسـت. هیات‌های این سـازمان پیـش از این و در نزدیک به سه‌سال حاکمیت امارت اسلامی نیز به افغانستان سفر کرده‌اند.

## څوارلسو کالو ځنډ وروسته ...

څخـه د کرنیـزو ځمکو د خـړوب لپاره کار اخیسـتل کېـږي. عابـد زیاتـوي، چې د دې بند چارې ۹۹ سـلنه بشـپړې شـوې دي او دمګـرۍ یـې پـه پـاور هـاوس جوړولـو بانـدې کار روان دی. یـاد بنـد د کابل شـکر درې ولسـوالۍ کـې موقعیـت لـري، چـې د ۱.۲ مېګا واتـه برېښـنا د تولیدلـو وړتیـا لـري. وروستیو اورښتونو هېواد ګڼ برېښنا بندونه پارچاو کړي دي. مسوولینو د کمال خان د بند د چارو د پای ته رسولو خبر هم ورکړی دی.

## د کمال خان بند ۹۹ سلنه چارې...

د هېواد په ګوټ ګوټ کـې د لویو او وړو ذخیروي بندونو چـارې پیل کړي، چې د ګڼ شـمېر هغو یې کارونه بشـپړ او ګټې اخیسـتنې ته سـپارل شـوي او وروستیو اورښتونو یې کاسې هم له اوبو ډکې کړي.

## چین از کمک به مهاجران برگشت کننده...

از پاکستان ابراز آمادگی کرده است. به گفته سخنگوی وزارت خارجه، مقامات چینی این سـخنان را در سـومین نشست معاونیت‌های سیاسی وزارت‌های خارجه این کشور و افغانستان مطرح کرده‌اند. در این گـزارش آمده است که حکومت چیـن تعهد کـرده که ۱۰۰ میلیـون ین را برای مهاجران که با اخراج اجباری مواجه هستند در بخش‌های از سـرگیری تداوی بیماران قلبی و سکالرشـیپ‌های آموزشی کمک مـی کند. بـه دنبـال واکنش‌های گسترده رسـانه‌های پاکستانی روزدوشنبه، ۱۵ اپریـل از رونـد دوم اخـراج اجباری مهاجـران و پناهجویـان «غیرقانونی» از پاکستان خبر داده‌اند. بر اساس گزارش‌ها در مرحله دوم اخراج مهاجرین افغانسـتان از پاکسـتان حدود ۸۰۰ هزار تن به کشور باز خواهند گشـت. این در حالی اسـت که سـازمان داکتران بدون مرز و شـماری از نهادهـای حقوق بشـری و مهاجران از آغاز مرحله دوم اخراج مهاجران از سـوی پاکستان ابراز نگرانی کرده‌اند.

## ترکیې ته تر زر متریک ټنو زیاتې معدني..

پـه ورځنـي ډول یـو ارځیـزه وي او د سـوداګریزو توکو حجم ته په کتلو سره به یې کچه په ورځني ډول دوه ارځیزه شي. ویل کیږي چې تر فتحې وروسته دا لومړی ځل دی چې افغاني توکي د روزنک وسپنې پټلۍ له لارې بهر ته صادرېږي.

## بهرنیانو پنجشېر کې پانګونې ته

د پنجشـېر له والي سره لیدنه وکړه دا اوس د چینایي پانګه والو یوې ډلې د دې ولایت د والي ښـاغلي الحاج حافـظ محمد اغا حکیم سـره د لیدنې سربېره په دغه ولایت کې د خپلو سـوداګریزو فرصتونـو په لټه وګرځېدل.
د پنجشېر والي ښـاغلي حافظ محمد اغا حکیم له دیادو چینایي سـوداګرو او پانګه والو وغوښـتل چې پـه دې ولایت کې په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي.

## یوه میاشت کې مو له سل زرو ډېرو...

دغه راز د غیر خوراکي توکو د مرسـتې کچه ټولټال ۴۱۷۳ قلمـه توکي و، چې ۴ خېمې، ۷۱ ترپالونـه، ۲۶۴ کمپلې، ۴۵ د پخلنځي د لوښـو بسـتې، ۱۰۰ د اوبو د ذخیره کولو وسـایل، ۳۳۵ ډلاس وینځلـو صابـون او ۳۳۵۴ د پوښاک جامې شاملې وې.

## نشه یي توکو سره د مبارزې پولیسو...

درې پـه تخار، دوه په بغلان او یو کس پې د نیمروز په دلارام ولسوالي کې له ته بیلره خامو نشه یي توکو سـره نیولي. د یادوني ور ده، چې د امنیتي ادارو له لوري وروسته له هغه د نشـه یي توکو پر ضـد اقدامات کرندي شـوي، چې امیر المؤمنین حفظه الله په یو فرمان کې په تول هیواد کې د نشه یي توکو په کر او کاروبار بندیز ولګاوه.

## لوګر کې د ۱۵ میلیونو افغانیو...

پـه مـالي ملاتـړ د شـاوخوا ۱۵ میلیونـه افغانیـو پـه لګښـت پـیل شـوي چـې پـه بشـپړېدو سره بـه یـې نـږدې ۲ زره زده کوونکو ته د زده کـړو منظمـه زمینـه برابره شي. د نومـوړي په وینا په یـادو پروژو کې د احاطې دېوالونـه، د ژورو څاه ګانو کیندل، په لمریزه برېښنا سـمبال د څښاک اوبو شبکې، د عصري او ساده تشنابونه، کانکرېټي کتارې او نورو اړینو ملحقاتو جوړول شامل دي. د یادونـې وړ ده، چـې پـه نـږدې راتلونکې کې به د ۱۲ نورو ښوونځیو لپاره هم د ودانیو او ۷ نورو ښوونځیو ته د ورته پـروژو عملي چارې هم پیل شي.

## مساعدت نقدی برای بیش از ۱۹۸...

گام های عملی را با امکانات دست داشته بردارند.
**عبدالعزیز نظری سخنگوی والی کاپیسا به خبرنگار روز نامه شریعت گفت:**
بر اساس فیصله کابینه ۱.۱.۱ آنعده مهاجرینی که از کشـور های ایران و پاکستان بگونه ی اجباری اخراج شده و ثبت دیتابیس در مرز نیمروز یا تورخـم گردیده بودند، جدول آن اشـخاص از وزارت محترم مالیه به آمریت محتـرم مهاجرین این ولایت انتقال یافته و برای هـر عضو خانواده مبلغ ۲ هزار افغانی که در مجموع مبلغ ۲ میلیون و ۵ صدو ۵۰ هزار افغانی می شـود، در حضور داشت شیخ مولوی اسـدالله سـنان معاون مقام ولایت، مفتی عبدالخالق مسـتوفی ولایت کاپیسـا و مولوی حمدالله شـهید زاده آمر مهاجرین و عودت کننـده گان نقداً توزیع گردید. آقای نظری همچنـان افزود:» برای هر پنج عضو خانواده مبلغ ۲۰۰۰ افغانی و از پنج عضـو که اضافه هسـتند، مبلـغ یک هزار افغانی توزیع گردید.
وی اشـاره نمـود که:» مقـام ولایت برای مهاجرین اخراج شـده کشور های همسایه وعده سـپرد کـه مسـوولین ۱.۱.۱ در تلاش هسـتند تا بیشـتر از این بـرای مهاجرین همکاری و کمک صورت گیرد تا مشکلات شان به شکل دوامدار مر فوع گردد.
قابل یاد آوریست که مرحلـه دوم اخراج اجباری مهاجرین از سـوی کشور پاکستان آغاز شـده و هر از گاهـی، روزانه چندین خانواده وارد این کشور می شوند و از سوی کشـور ایران نیز مهاجرین بازداشـت و به افغانسـتان انتقال داده می شـوند و وزارت امـور مهاجرین و عودت کننـدگان همواره اعلام داشـته که در خصوص رسیدگی برای مهاجرین عودت کننده متعهد است.
**قیس قادری**

## روژه کې مو له څه باندې...

ولایتونو کې پنځلس زره او درې پنځوس (۱۵۰۵۳) تنو یتیمانو، کونـډو، معلولینو او ارمنو کسـانو ته مرسـتې ویشلې دي، په یادو مرسـتو کې خوراکي توکي، نغدي مرستې، ویلچرونه، د معلولینو د اقتصادي خان بساینې په موخه د کوچنیو کاروبارونو برابـرول، د یتیمانو لپـاره د اختریزو توکو چمتو کول او داسې نورې بیلابیلې مرستې شاملې دي.

## سال گذشته بیش از ۸۷ هزار تذکره...

معلومات به نقل از ضیاءالدین بختیار رئیس احصائیه و معلومات ولایت بادغیـس می‌گوید کـه روزانـه حدود ۵۰۰متقاضـی بـه دفاتـر این ریاست برای دریافت خدمات مربوط به تذکره الکترونیکی و کاغذی مراجعه می‌نمایند.
آقای بختیار گفته است که به‌شـمول مرکز در تمامی ولسوالی‌های این ولایت دفترهـای مربوطه فعال بوده و در سـال گذشـته از طریق آن برای ۳ هزار و ۷۱۲ تن خدمات اصلاح تذکره کاغذی و برای ۵ هـزار و ۵۵۰ تن دیگـر خدمات ثبت وقایع حیاتی که شـامل (۴ هزار و ۶۳۶ کارت تولـد، ۶۱۷ پارچـه فوتی و ۲۹۷ ثبت ازدواج) می‌گردد، ارایه شده است.
به‌گفتـه رئیـس احصائیـه و معلومـات بادغیـس، در ایـن ولایـت دو مرکـز توزیع تذکـره الکترونیکـی فعال بوده و بـه متقاضیـان زن و مرد خدمـات ارایه می‌نمایـد. در مرکـز اول توزیـع تذکره الکترونیکی این ولایت افزون بر توزیع تذکره جدید خدمات پـس از توزیع نیز فعال بوده و خدمات ( ثبت تولد و توزیع تذکره مثنی) ارایه می‌گردد.
اداره ملـی احصائیـه و معلومـات می گوید که به سـطح کشـور مراکز توزیع تذکره الکترونیکی در نقاط دوردسـت و ولسوالی‌ها گسـترش داده تا باشندگان ایـن مناطق بـه آسـانی بتوانند تذکره الکترونیکی خویش را دریافت نمایند.
اداره ملـی احصائیـه و معلومات قبل از این اعلام کرده بود که در سـال گذشـته بـرای ۳ میلیون و ۱۲۴ هزار شـهروند کشـور فقط تذکـره الکترونیکـی توزیع کرده است.
ایـن تعـداد مشـمول ۲ میلیـون و ۶۸ هـزار تذکـره بـرای مـردان و ۱ میلیون ۵۶ هـزار تذکره بـرای زنان گفته شـده بـود و بیش‌ترین تذکره‌های توزیع‌شـده الکترونیکـی در سـال گذشـته، در ولایـت کابل بـوده کـه بـرای نزدیک به ۷۰۰ هـزار تن توزیع شـده اسـت. پس از کابـل، در ولایـت هـرات نزدیک به ۲۸۰ هـزار تذکـره الکترونیکی، در بلخ بیش از ۱۸۸ هـزار و در ننگرهار حدود ۱۶۲ هـزار تذکـره الکترونیکـی توزیـع شده است.
گفته شـده اسـت که از آغاز رونـد توزیع تذکـره الکترونیکی در کشـور تا کنون برای نزدیک بـه ۱۲ میلیـون و ۹۰۰ هزار شـهروند تذکره الکترونیکی توزیع شده اسـت که مشـمول ۷ میلیون و ۵۰۰ هزار تذکره برای مـردان و نزدیک به ۵ میلیون و ۴۰۰ هزار تذکره بـرای زنان می‌گردد.
در کنـار این روند توزیـع تذکره کاغذی هـم در ولایـات جـریان داشـته و هزاران شـهروند در یـک سـال تذکـره کاغذی اخذکرده اند. **اسـفندیار**

## جان باختن هفت عضو یک خانواده...

افتاده است.
به گفته آقای راشد این رویداد در مربوطات ولسوالی کجکی ولایت هلمند، به وقوع پیوسته است.
آقای راشد افزوده که سـه تن دیگر نیز در نتیجه فروریختن یک دیوار، زخمی شده‌اند.
بارش‌ها و باران‌هـا در آغاز سـال‌جاری در کشـور علاوه بر تلفات جانی، خسـارات هنگفـت مالی نیز برای مردم بـه بار آورده است. هفته گذشـته وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث طبیعی گفت که ۷۰ تن در نتیجه بارش باران‌های اخیر در کشـور، کشته شده‌اند.

# Shariat
Daily

**Shariat**
**Published by**
**Islamic Emirate of Afghanistan**
**M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies**
0782080666
**Chief Editor : Farooq Ghaljai/** 0778635852
**Email: info@shariatdaily.com**
**WWW.shariatdaily.com** ویب سایت:

**شریعت**
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: **info@shariatdaily.com**
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Sunday 21 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 432


# بهرنیانو پنجشیر کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې



د پنجشیر د رسنیو دفتر په یوه خبر کې ویلي چې په دې وروستیو کې دې ولایت کې د کورنیو پانګوالو تر څنګ بهرنیو پانګوالو هم د پانګونې لېوالتیا ښودلې ده.

د پنجشیر د خلکو د اقتصادي وضعیت د ښه والي لپاره د ولایتي ادارې د اقتصاد محوره کړنو او هڅو وروسته په دې وروستیو کې په دې ولایت کې د لویو پروژو د پلي کولو لپاره روسي، ترکي او دا اوس چینایي پانګه والو او کمپنیو ژوره لېوالتیا ښودلې ده.

د پنجشیر ولایت د خلکو د اقتصادي وضعیت وروسته پاتي حالت او د دغه ولایت له بیارغونې بې برخې خلکو ته د اسانتیاو د برابرولو په لړ کې وروستیو پرمختګونو ته د دغه ولایت ولسونه خوښ دي دوی د لازیاتو هڅو او پرمختګونو هیله لري. کابل ته د پنجشیر سیند د اوبو د انتقال د پروژې لپاره اوونۍ وړاندې د روسي کمپنیو او پانګه والو پلاوی پنجشیر ته راغی، ورپسې د ترکي نړیوالې کمپنۍ پلاوي... **۳مخ**

# معاون سازمان همکاری اسلامی در راس هیاتی وارد کابل شد

طارق علی بخیت، معاون سازمان همکاری اسلامی که در راس یک هیات عالی‌رتبه این سازمان وارد کابل شده، با شیخ محمد خالد حنفی، سرپرست وزارت امر باالمعروف و نهی عن‌المنکر، دیدار کرده است.

هیات عالی‌رتبه سازمان همکاری اسلامی به ریاست معاون این سازمان دیروز با سرپرست وزارت امر باالمعروف و نهی عن‌المنکر، دیدار کرده است.

در خبرنامه‌ای که از این دیدار منتشر آمده است... **ص۳**

## رویدادهای خارجی

### باربادوس فلسطین را به‌عنوان یک کشور مستقل به رسمیت شناخت

بدنبال وتوی رای‌گیری شورای امنیت در مورد عضویت کامل فلسطین در سازمان ملل از سوی امریکا، کشور باربادوس، فلسطین را همچون کشور مستقل، به رسمیت شناخت.

کری سیموندز، وزیر امور خارجه باربادوس گفته است: اگر فلسطین را به‌عنوان یک کشور به رسمیت نشناسیم، چگونه می‌توانیم بگوییم



که راه حل دو کشوری می‌خواهیم؟

وزیر امور خارجه باربادوس تاکید کرده که به رسمیت‌شناسی فلسطین، در روابط این کشور با اسراییل بی‌تاثیر خواهد بود.

این در حالی است که نماینده امریکا در شورای امنیت سازمان ملل متحد پنج‌شنبه‌شب، رای‌گیری برای عضویت کامل فلسطین در سازمان ملل متحد را وتو کرد.

از میان ۱۵ عضو دایم و غیردایم شورای امنیت سازمان ملل متحد تنها امریکا با عضویت کامل فلسطین در سازمان ملل متحد، مخالفت کرده است.

### د پاکستاني مزایلو پر همکارو شرکتونو پراخ بندیزونه ولګېدل

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، پر هغو څلورو شرکتونو سخت بندیزونه لګولي، چې د پاکستان بالستیک او لیرې واټن ویشتونکو مزایلو لپاره یې خام توکي او اسانتیاوې برابرولې.

د پاکستان د بالستیک مزایلو دغه مرسته کوونکي شرکتونه په چین او بېلاروس کې فعالیت کوي.

له دغو شرکتونو یو یې په بېلاروس او درې نور یې په چین کې دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې ویل شوي، دغه شان بندیزونه معمولاً په هغو افرادو، بنسټونو او شرکتونو لګول کېږي، چې د ویجاړوونکو وسلو لپاره امکانات برابروي.

په بیلاروس کې د مینسک په نامه د تراکتور ټایرونو جوړولو شرکت، په چین کې د شیان لانج په نامه د ټکنالوژۍ پرمختګ شرکت، د تیانجین نړیوالې خلاقې سوداګرۍ شرکت او د ګرانپیت نوم هغه نور شرکتونه دي چې تر دې دمخه پرې امریکا بندیزونه لګولي دي.




### بعد از خروج نیروهای فرانسوی، این بار نیروهای امریکایی نیز از نایجریا خارج می‌شوند

رسانه‌های خارجی خروج احتمالی نیروهای امریکایی از نایجریا را تایید کرده‌اند. این در حالی است که پیشتر تمام نیروهای فرانسوی در پی اعتراضات پیگیر و درخواست حکومت نظامی نایجریا از این کشور خارج شده بودند.

گزارش ها ازین کشور میرساند با درخواست مقامات نایجریا و طرح خروج بیش از یک‌هزار سرباز امریکایی از نایجریا موافقت شده اما هنوز جدول‌زمانی مشخصی برای اجرای این طرح سنجیده نشده است. طبق گزارش ها، ایالات متحده پایگاهی در شهر بیابانی آگادز نایجریا دارد که با هزینه ۱۰۰ میلیون دالر برای پرواز طیاره‌های بدون سرنشین ساخته شده و قرار است این پایگاه طیاره‌های بدون سرنشین در افریقا نیز تغییر کند.

### بازداشت ۲۵ مهاجرین افغان در ترکیه

به دنبال افزایش اخراج و بازداشت پناهجویان افغانستان در ترکیه مقامات این کشور اعلام کرده که ۴۵ پناهجو را در شهرهای (بالکسیر) و (چاناک قلعه) بازداشت کرده‌اند.

رسانه‌های ترکی گزارش داده که ۲۹ پناهجوی افغانستان در شهر (بالکسیر) و ۱۶ پناهجوی دیگر در شهر (چاناک قلعه) بازداشت شدند.

مقامات این کشور از بازداشت چهار قاچاقبر نیز به اتهام انتقال قاچاقی این پناهجویان خبر داده است. پیش از این نیز رسانه‌های ترکی از بازداشت صدها پناهجوی افغانستان به دلیل «نداشتن مدرک اقامت در ترکیه» خبر داده بود.

گفتنی است که بر اساس آمارهای رسمی بیش از ۳۰۰ هزار مهاجر افغانستان در ترکیه زندگی می کنند.



# څوارلسو کالو ځنډ وروسته د شاه و عروس بند کاسه ډکه شوه

له ۱۴ کالو وروسته دا لومړی ځل دی چې د شاه و عروس بند کاسه ډکېږي. د اوبو او برېښنا وزارت وايي، له ۱۴ کلونو وروسته د شاه و عروس بند کاسه ډکه شوې او پارچاو شوې ده. د دغه وزارت ویاند مطیع الله عابد وايي، چې د دې پارچاو شویو اوبو... **۳مخ**



# د کمال خان بند ۹۹ سلنه چارې بشپړ شوي

د اوبو او انرژۍ وزارت وايي، نیمروز کې د رغېدونکي برېښنا بند چارې ۹۹ سلنه پر مخ تللي، د رغېدلو چارې یې د بشپړېدو په حال کې دي او ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د دې وزارت ویاند له رسنیو سره خبرو کې ویلي، د یاد بند چارې ۹۹ سلنه پرمخ تللې، چې په بشپړېدو سره به شپږ میګاواټه برېښنا هم تولید کړي. دغه راز د کمال خان بند د ۵۲ میلیونه متر مکعب اوبو د ذخیره کولو ظرفیت لري. دا په داسې حال کې ده، چې اسلامي امارت د کرنیزو ځمکو خړوبولو، د سېلابونو او موسمي بارانونو اوبو مهار، د ځمکې لاندې اوبو مدیریت او پیاوړتیا او د وچکالۍ مخنیوي په موخه ... **۳مخ**



# عواید نزدیک به ۱۱۰ میلیون افغانی مدیریت پاسپورت ولایت لوگر در سال ۱۴۰۲



مقام‌های محلی ولایت لوگر می‌گویند، مدیریت پاسپورت این ولایت در سال گذشته هجری خورشیدی ۱۰۹ میلیون افغانی، عواید جمع‌آوری و به خزانه دولت واریز کرده است. این مبلغ در جریان سال ۱۴۰۲ و با توزیع هزاران جلد پاسپورت، به‌دست آمده است.

بربنیاد اطلاعات مقام‌های محلی ولایت لوگر، مدیریت پاسپورت این ولایت در سال‌پار هجری خورشیدی ۱۹ هزار و ۵۹۹ جلد پاسپورت توزیع شده است.

به گفته آنان تلاش‌ها به هدف سهولت در توزیع پاسپورت در لوگر و برای سال‌جاری ادامه دارد.

گفتنی‌است که سال‌پار هجری خورشیدی همه ولایت‌های کشور از رهگذر توزیع پاسپورت، ده‌ها میلیون افغانی عواید جمع‌آوری و به خزانه دولت واریز کرده‌اند.

# کندهار کې ټرافیکي پېښې تر لسو زیات هېوادوال ټپیان کړي

ملي دفاع وزارت وايي چې د کندهار-هرات پر لویې لارې د یوې ټرافیکي پېښې له کبله ۱۲ هېوادوال ټپیان شوي چې پر وخت د ښوراب ساحوي روغتون ته ورورل شوي دي.

د کندهار – هرات پر لویه لاره د واشیر ولسوالۍ په اوبدو کې یو مسافر وړونکی بس موټر له سړکه اوښتی او سپاره ۱۲ تنه یکې ټپیان شوي دي.

تر دې پېښې وروسته د ۲۱۵ عزم قول اردو اړوند د ښوراب ساحوي روغتون روغتیایي ټیمونه سیمې ته رسېدلي او ټپیان یې د ښوراب ساحوي روغتون ته لېږدولي دي.

ملي دفاع وزارت منسوبین ژمن دي تر څو هېوادوال ته په بېړنیو حالاتو کې رسېدنه وکړي.



# لوګر کې د ۱۵ میلیونو افغانیو په ارزښت ښوونځیو ته ځینې پروژې پلې کېږي




د لوګر د پوهنې ریاست مسوولین وايي، چې د یاد ولایت د محمد اغې ولسوالۍ ښوونځیو لپاره د شاوخوا ۱۵ میلیونه افغانیو په لګښت یو شمېر پروژې پلې کېږي.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست ویاند شاهپور عرب د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د دغو پروژو چارې د یاد ریاست په هلو ځلو او د ملګرو ملتو د ماشومانو د ملاتړ صندوق (یونسیف)... **۳مخ**

# مساعدت نقدی برای بیش از ۱۹۸ خانواده در ولایت کاپیسا

**شریعت:** بر بنیاد معلومات وزارت امور مهاجرین روزانه ۳۰ الی ۴۰ خانواده از کشور های همسایه به وطن باز گشت می نمایند و این وزارت همواره سعی کرده تا از طرق مختلف در همکاری با موسسات بین المللی ذیربط برای آنان رسیدگی صورت گیرد و برای واحد دومی شان در ولایات نیز هدایت جدی داده اند که در حل مشکلات مهاجرین... **ص۳**




**شهیدانو او معلولینو وزارت:**

# روژه کې مو له څه باندې ۱۵ زرو اړمنو سره مرستې وکړې

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د روژې په مبارکه میاشت کې پنځلس زره او درې پنځوس اړمنو کسانو باندې بېلابېلې مرستې وېشلې دي

دې وزارت د خیریه بنسټونو، مؤسسو او خیرخواه اشخاصو سره په همکارۍ او همغږۍ د مرکز په شمول د هېواد په بېلابېلو... **۳مخ**

ولایتونو کې پنځلس زره او درې


**توجه !**

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**